


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



## عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »

د نشرنیته : 19 مارچ 2020

# ځیني ، ځیني

ځیني ، ځیني د تولنې خدمتګار وي
ځیني ، ځیني په تولنې باندې بار وي

ځیني ، ځیني دریا په جامو پټ وي
ځیني، ځیني ملنګي کې پرهیزکاروي

ځیني ،ځیني په خپل ځان باندې مین وي
ځیني ، ځیني بیا له بدو توبه ګار وي

ځیني، ځیني په تول ژوند کې غمازي کا
ځیني ، ځیني بیا دلبر وي او دلدار وي

ځیني ، ځیني دغرور په لمبو سوزي
ځیني ، ځیني بیا په زړونو کې بادار وي

که ګلبڼ ته د ګلانو سیل ته راغلې
ستا خدمت ته به ولاړ حفیظ ملیار وي

***

عبدالحفیظ « ملیار »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org